مسئوولیت متن و شکل بدوش نویسندهٔ مضمون میباشد، عقیدهٔ نویسنده لزوماً نظر افغان جرمن آنلاین نمی باشد

کاینات تنها ۲۰۲۲/۰۷/۱۹

غــزل

څو به مې زړه درپسې وژاړي ناري ووهي
که ته رانغلې تا دې ټولې سپېارې ووهي

باور دې وشه نور مې زړه پکې راتنګ غوندې دی
دا زندګي مې اور ته نیسم چې لمبې ووهي

ما خو په ډېرو دروغجنو دلاسو دوکه کړ
هسې نه تا رانه د خپل زړګي ښېرې ووهي

ما د بې ننګه یاره تمه د وفا وکوله
زما په کور دې بیلتون غبرګې نغارې ووهي

ځان دې کړي مړ چې ستا له دره بې دیدنه راځي
څوک چې په ټکنده غرمه دښتې میرې ووهو

د کاینات تنهایي ختمه شوه ما خوب لیدلی
پیغلې راټولې کړې چې ټوله شپه چمبې ووهي

افغان جرمن آنلاین په درنښت تاسو همکارۍ ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړیکه ټینګه کړئ maqalat@afghan-german.de
یادونه: دلیکنې د لیکنیزې بڼې پازوالي د لیکوال په غاړه ده ، هیله من یو خپله لیکنه له رالیږلو مخکې په ځیر و لولئ